مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۲۶/۱۱/۲۲

د غوراصلي اوسپدونکي،

(ترکان، پښتانه که تاجکان)

۸برخه

د غوریانو ټولواکمنۍ ځورتیا

لکه څرنګه چې غوري ټولواکمنۍ له وړو وړو سیمه ییزو واکمنو نه مینځته راغله، همدا راز د یو شمېر لاملونو له امله دغه ستره ټولواکمنۍ چې له افغانستان نه تر هندوستانه، له پارس نه تر خراسانه او همغسې ترکستانه پورې غوځېدلې وه، د سلطان غوري شهاب الدین محمد له وژلو وروسته، ډېر زر په سیمه ییزووړووړو واکمنیو ووېشلې شوه، چې څو ېېلګې داسې دي:

۱ـ د غوري ټولواکمنۍ د ځواک او واک سترتیا هغه وخت پیل شوه چې غوري غیاث الدین محمد او غوري معزالدین محمد سام یو د بل پسې سلطنت ته ورسېدل.

ولي کله چې شهاب الدین محمد (معزالدین) ووژل شو، دغه ستره ټولواکمنۍ په جلا جلا سیمه ییزو واکمنیو، چې د هري سیمې سپه سالار د هغې سیمې پاچا وه ټوټه ټوټه شوه.

د غیاث الدین محمد زوی محمود د خپلې ورځتایي له کبله هم علاوالدین محمد خوارزم ته سرخوځوه او هم یې کوښښ کاوه، چې یو شمېر سیمه ییزه واکمن د ځان ملګري کړي.

د حسین خرمیل له وژلو وروسته ملک سعدالدین د هرات والي ټاکل شوي وو او کله چې د خپلواکۍ اعلان وکړ محمود کوښښ کاوه، چې هغه د ځان ملګری کړي خو د علاوالدین خوارزم له خوا په دار وځړول شو.

یو بل پسې د سیمه ییزو واکمنیو د جوړیدو ستر لامل د غیاث الدین محمود سیاسي او پوځي کمزوري وه چې دمخه یې یادونه وشوه او په پای کې د همدې کمزورېیو قرباني شو او پرځای بهاوالدین سام واک ته ورسېد.

۲ ـد محمود سام له وژلو وروسته زوی یې بهاوالدین سام، د غور درباریانو او سردارانو له خوا په پاچاهۍ وټاکل شو.

دده له واکه لا دري میاشتي نه وي تېري، چې علاوالدین اتسز د علاوالدین حسین جهان سوز زوی پرې یرغل وکړ، هغه د خوارزمشاه په سلا و مشوره، د هرات او فیروز کوه حاکمان تر برید لاندې ونیول.

۳ ـد خوارزمشاهانو ځواک دومره هم پیاوړی نه وو، چې غوریانو ته ماته ورکړي، خو کله چې شهاب الدین محمد ووژل شو، د غوریانو له خپل مینځي اختلاف نه علاوالدین خوارزم ګټه واخسته او یو د بل پسې د غوریانو د واک سیمې لاندې کړې.

علاوالدین آتسز، چې یو مهال په غزني کې له غوري شهاب الدین محمد سره استوګن وو او ډېر څه یې له هغه نه زده کړي وو. ان تر دې چې یو مهال معزالدین محمد ناروغه شو، سردارانو وپتیله که هغه جوړ نشي نو ځای ناستی به یې دی وي. کله چې هغه بیرته روغتیا ترلاسه کړه نو دی یې بامیانو ته واستوو.

د سلطان شهاب الدین له مرګه وروسته په دې فکر کې وو چې د غور سلطان شي. نو ځکه یې په ۶۰۷ ق کال د خوارزمشاه په مرسته په فیروز کوه یرغل وکړاو دا ځل ځکه بریالی شو، چې د ۶۰۴ ق کال د ناکام برید تجربه ورسره وه.

سره د دې چې د غور سلطان شو، خو د هغه اختلاف له مخې، چې د غزني له سیمه ییز واکمن تاج الدین یلدوز سره یې درلود، له «۴» کالو سلطنت وروسته فیروز کوه د یلدوز جنګیالیو ونیو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۴ -د غوري کورنۍ يو بل تن د شجاع الدين علي زوي سلطان علاوالدين محمد دی چې د سلطان غياث الدين زوم کېده او د هغه د واک په مهال نيشاپور والي وو، چې د غوري شهاب الدين د واک په مهال چې پلازمېنه يې غزني وو، دی يې د فيروز کوه حکمران وټاکه.
خو دی د سلطان غياث الدين زوی محمود په غرستان کې بندي کړ، چې بيا د علاوالدين اتسز له خوا خوشې شو.
تاج الدين يلدوز چې فيروز کوه ونيو، دی د سلطان په نوم فيروز کوه ته ولېږه سره د دې چې سکه دده په نوم وهل شوې وه بيا هم غور يې علاوالدين خوارزم ته تسليم کړ.
۵ -د سلطان غياث الدين محمد کاکا فخر الدين مسعود، چې دده له خوا د بامیانو والي وټاکل شو او تر پايه يې هلته حکومت وکړ، چې له ده نه وروسته زوی شمس الدين محمد دده ځای ناستی شو او له ده نه وروسته زوی، چې د سلطان غياث الدين د خور زوی کېده او هغه دی د بهاوالدين سام په نوم ونوماوه، د پلار له مرګه وروسته (۵۸۸ ق کال) واک ته ورسېد.
د جوزجاني له انده ده په ترمذ، بلخ، کاشغر، ان تر کشمیره پورې حکومت کاوه او ان سکه هم دده په نوم ووهل شوه.
بهاوالدين سام غوښتل، چې د شهاب الدين له مرګه وروسته غزني لاندې کړی، خو په لاره کې ومړ.
۶ -د بهاوالدين سام له مرګه وروسته زوی يې علاوالدين د پلار له وصيت سره سم د هغه ځای ناستی ونومول شو.
ده وغوښتل چې د پلار نا تمامه کار بشپړ کړي له خپل ورور جلال الدين سره يو ځای غزني ته لاړ او په تخت کيناست. ده د غزني خزانه له خپل ورور سره په مساوي توګه ووېشله او د جوزجاني د څرګندونو پر بنسټ:
د جلال الدين برخه په «۲۵۰» اوښانو بار شوه چې په دې کې سره زر، قيمتي ظروف او نور ارزښناکه توکي شامل وو او بيا يې بامیانو ته ولېږدول.» د غزني ترکان د بهاوالدين د زامنو له واکمنۍ له لومړي سره خوشحاله نه وه، نو بيا يې تاج الدين يلدوز ته بلنه ورکړه، چې په غزني برید وکړي. هغه هم يو لښکر، چې په دې کې ترکي، غز او خلج جنګيالي شامل وو. منظم کړل او مخ په غزني راغلل.
د ابن اثير او جوزجاني په وينا وو د تاج الدين يلدوز جنګياليو، هر څه لوټ کړل، او بيا يې هغه له غزني څخه، چې يوازې خپل ساده کالي يې په تن ول ووېست او پرته له کومو تشريفاتو بامیانو ته لاړ.
هلته له خپل ورور جلال الدين سره يو ځای شو او د خپلو ځواکونو پر مټ د يلدوز لښکر ته ماته ورکړه او علاوالدين د دويم ځل لپاره د غزني په تخت کيناست او ورور يې بيرته بامیانو ته ستون شو. » ابن اثير د دې خبرې پخلی هم کړی، چې علاوالدين، هغسې هم د ترکانو له نيت نه خبر وه نو د غزني ښاريان يې ډېر وځورول، چې ان يو شمېر ترکانو دومره څه نه درلودل چې وې خوری، نو بيا يې خپل اولادونه پلورل.
تاج الدين يلدوز بل ځل بيا برید وکړ، سره د دې چې ورور يې جلال الدين مرستی ته راغی خو په دې برید کې نه يوازې د جلال الدين او علاوالدين ځواکونو ته ماته ورکړه، بلکې هغوئ يې يرغمل کړل.
۷ -تاج الدين يلدوز د اته (۸) کالو په شاوخوا کې (۶۱۲-۶۰۳ ق) په غزني حکومت وکړ. دی لکه د قطب الدين ايبک، التمش او نورو په څېر د غوري شهاب الدين مملوک او غلام وو، چې د هغه په دربار کې روزل شوی وو.
يلدوز تر هغه مهال په غزني حکومت وکړ، چې په پای کې سلطان محمد خوارزمشاه پرې يرغل وکړ، ده ته يې ماته ورکړه او له خپلو يو شمېر پلويانو سره د «سورۍ تيګې» له لارې د هند نيمې وچې ته واووښت.
هلته يې د ناصر الدين قباچه پر وړاندې پاڅون وکړ لاهور يې لاندې کړ او بيا يې د ډيلي حکمران شمس الدين التمش تر ګواښ لاندې ونيو خو نوموړی د التمش له خوا ووژل شول.

د غوريانو سياسي، اقتصادي او کلتوري مناسبات

غوريانود زيږدي دولسمي پېړۍ له نيمايي نه د ديارلسمي پېړۍ ، تر يوې نيمې لسيزې پورې تر ډېره بريده له افغانستانه سربيره د سيمې هېوادونو په يو شمېر سيمو حکومت وکړ.
که څه هم د غوريانو ټولواکمنۍ د يوه باثباته مرکزي حکومت په ارزښت ولاړه وه، ولې بيا هم د غوريانو د سلطنتي کورنۍ غړو د ملک په نوم د سيمه ييزی واکمنۍ د ټينګښت لپاره هڅې کولې او ان ملاماتوونکي ماليې يې له خلکو نه ټولولې.
په دغه ترڅ کې دغو سيمه ييزو واکمنو افغانستان ته ډېر لوی زيان واړوه اوپه ځانګړي ډول، کله چې سلطان شهاب الدين محمد سام ووژل شو. همدغو سيمه ييزو ملکانو د خپل واک د ځواکمنتيا لپاره مټې رابډ وهلی او يو د بل پر وړاندې ودرېدل، چې مورِ ملک رکن الدين، ملک اتسز ، ملک علاوالدين (د نيشاپور والي)، ملک نصر الدين حسين، تاج الدين يلدوز او په لسګونو نور لوی او واړه سيمه ييزه واکمن د بېلګې په توګه يادولی شو.
غوريانو له پيل نه تر پايه پورې تر ډېره بريده کوښښ کاوه، چې شنسبي کورنۍ په واک کې وي، که څه هم غوري شهاب الدين، چې خپل زوی يې نه درلود، د خپلې واکمنۍ چارې، په ځانګړي ډول د هند په نيمه وچه کې خپلو غلامانو ته سپارلې وې او د فدرالي اداري بڼه يې خپله کړې وه.
غوري سلطنتي کورنۍ په تيره غوري شهاب الدين پخپله په ملک او هېواد کې د عدالت ټارنه کوله، چې وروسته هندي واکمنو هم د غوريانو دغه دود پاله.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ابن اثیر په قول غیاث الدین بلبن د ټولنیز عدالت په موخه پخپله یو «دیوان» او دفتر درلود او پخپله یې د ظلمونو څارنه کوله.
نامتو تاریخپوه «هندوشاه» کښلي دي چې : «غیاث الدین بلبن (د هند مملوک سلطان) به خپل زوی ته وېل، چې شمس الدین التمش به داسې غبرګو له، ما دوه واړي له غزنوي مبارک سلطان معزالدین محمد بن بهاوالدین سام نه واورېدل، چې وېل به یې:
هغه څه چې پاچایان یې کوي د څښتن تعالی په مرسته وي او د خلکو د هوسایني لپاره وي او سلطان نه پریږدي، چې په هېواد کې فساد او ناوړه کړه وړه وي، بله دا چې دخلکو له کړو وړو خبر وي او همداراز انصاف او عدل ته پاملرنه ولري او ظلم ته لاره اواره نه کړي او په ټوله کې په څلورو ټکو ټینګار کاوه.» غوري واکمن له سیمه ییزې واکمنۍ نه راواخله تر ټولواکمنۍ پورې کولی شو په دوه برخو ووېشو:
په لومړي سر کې د غور د جغرافیوي ارزښت له مخې غوریانو سیمه ییزه واکمنۍ ساتلی وه او بیا تر ډېره بریده د غور سیمه ییزو واکمنو ،غزنوي واکمنو او بیا وروسته سلطان سنجر ته باج ورکاوه، چې مورِ کولی شو د دغو کسانو شمېر چې د امیر لقب یې درلود، دیارلس (۱۳) تنه وښېیو.
دویمه ډله، چې په خپلواکه توګه یې د هېواد چارې مخته وړلې، هغوئ د سلطان په نوم د واک او ځواک څښتنان وو، چې مورِ په دغه لړ کې سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین محمد د ساري په توګه یادولې شو.
د دوئ دولتي تشکیلات هم غزنویانو، سامانیانو او خراسانیانو ته ورته وو، لکه: د دیوان وزیر، د وزیرانو شورا ریس، چې د هېواد د مالیاتي چارې مخته وړلې، اداري او سیاسي دیوان، د اشرافو دیوان، استخبارات او نور د بېلګې په توګه یادولی شو.
له دغو ادارو پرته چې سیاسي او اقتصادي چارې سر ته رسولې، د عدالت په تړاو یې، د قضا چارې هم د یو شمېر قاضیانو د ګمارلو پر بنسټ ځارلې، چې د دغو قاضیانو ریس یې د «قاضي قضات» په نوم یادوه.
له قضایي قوي پرته غوریانو آمنیتي چارو ته هم ډېره ټینګه پاملرنه درلوده، کله به چې دوښته استخباراتو رپوټونه راورسول، نو بیا یې د اطلاعاتو د څرګندوالي او څومره والي له مخې پریکړه کوله.
د غوریانو پوځ په ټوله کې له دوه برخو جوړ وو، لومړی هماغه آمنیتی او دفاعي چارې وې، چې د دغه ځواک له مخې به کابو کېدې، دوئ په منظم ډول په نظام کې تلپاتې شتون درلود او ورځني چارې یې کنترولولې.
دویم هغه جنګیالی ځواک وو، چې کله به هېواد له کومې لوی آمنیتي ستونزې او ګواښ سره مخ شو، نو بیا به یې په ولس غږ وکړ او له دغو جنګیالیو به یې یو ستر لښکر ورغوه او بیا به یې سیال لوری پرې وګوابښه.
»هندوشاه»، جوزجاني او همداني د غوریانو د پوځ په تشکیل کې د بیلابیلو قومونو یادونه کړې ده او دوئ په دې اړه لیکلي دي:
»غوریانو د خپل واک د پرمختیا لپاره پخپل پوځ کې افغانان، هندیان، غزان، تاجیکان، خلجیان او ترکان جنګیالي نیولی ول» د دغو پوځونو په جوړښت کې سواره او پلی ځواکونه هم شامل وو، چې د ځمکنی جغرافیوي جوړښت له مخې به یې ځای پر ځای کول.
له ګنو ځاروېیو نه یې په جګړه ییزو چارو کې ګټه اخسته او ان دا چې له فیلانو نه یې هم استفاده کوله.
فخر مدبر لیکلی دي چې، «غوري پاچایانو په چړو، تورو او نیزو ډېره جګړه کوله.» جوزجاني بیا دغوري پوځ په کالېیو غږیدلی دی او په دی یې ټینګار کړیدی، چې پوځ ځانګړې پوځي جامې درلودی، چې دوئ به «کارولي» ، دوئ له هر ډول د فاعي او ژغور نیزو چارو د تعرض او برید له بیلابیلو تکتیکونو نه ګټه اخسته.
د عروضی سمرقندي د روایتونو له مخې غوریانو د دې وس او ځواک درلود چې فلزي توکي له معدنیاتو ترلاسه کړي لکه اوسپنه، سرب او نور د یادولو وړ دي، چې وسلې به یې تري تیارولې.
جوزجاني د غوریانو د خزانې په تړاو لیکلی دي چې: «د شهاب الدین محمد غوري د واک په مهال یوازې یو زرو پنځه سوه (۱۵۰۰) منه الماس په خزانه کې موجود وو.» له لرغونو اریایانو نیولی تر دغه پېره چې غوریان د غیاث الدین غوري او معزالدین محمد سام په مشرۍ د یوې ستري ټولواکمنۍ څښتن شو، وګړو یې بیلابیلې کلتوري او مذهبي اړیکې درلودی.
کله چې اریایان د افغانستان د نورو سیمو په څېر غور ته ورسېدل دوی هم لکه د نورو خلکو په څېر د یو شمېر توکو لمانځنه کوله، چې مورِ ستور لمانځنه، اور لمانځنه، توپان لمانځنه، لمر لمانځنه او د نورو طبعي توکو لمانځنه یادولی شو چې خلکو ته یې هم ګټه رسېده او هم زیان.
ولې کله چې په هند کې اشوکا او په افغانستان کې کنشکا واک ته ورسېدل بودیزم ډېره پراختیا او پرمختیا مونده او ان تر غوره پورې وده او پرمختګ وکړ. یانې په دې مانا چې غوریان په لومړي سر کې زرتشتان او وروسته یې بودیزم ته مخه کړه.
کله چې د اسلام سپېڅلي دین ترغوره راورسېد، له سیمه ییز واکمن شنسب نه راواخله تر غیاث الدین محمد سام پورې، د دغې سیمې وګړو بیلابیل مذهبي دودونه خپل کړي وو.
د جوزجاني د څرګندونو پر بنسټ: «په غور کې د «شیش» او د شنسب کورنیو تر مینځ چې د واک په سر یې اختلاف درلود، د عباسي خلیفه هارون الرشید (۱۹۳-۱۷۱ق) دربار ته لاړل او د هغه له مقام نه یې دغه فرمان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترلاسه کړ، چې د هېواد مشري دی د شنسبیانو په غاړه وی او پوځي چارو مسولیت دې د شیش وي.» هغه شمېر تاریخپوهانو چې تر دېره بریده د غزنویانو د پېر په شاوخوا کې یا وروسته ژوند کاوه او بیا یې څه لیکلي دي، د ساري په توګه، چې په غور کې د اسلام دین د سلطان محمود غزنوي د واک او ځواک په مهال خپور شویدی ، دغه څرګندوني د تامل وړ دي، چې څو بېلګې یې داسې په ګوته کولی شو.

۱ـ اصطخري وایي: « غور یوه غرنی سیمه ده، چې شاوخوا ته یې د نورو ولایتونو وګړي مسلمانان، خو دوئ کافران دي«...

۲ -ابن حوقل : «غوریان کافران دي ، دا چې په یو شمېر لیکنو کې یاد شویدي، چې لږو نه لږ مسلمانان دي« .

۳ -یو شمېر تاریخپوهانو، د دې لپاره چې د سلطان محمود برید ونوته د جهاد بڼه ورکړي او د غور برید ته لاره اواره کړي، د غور وګړي یې تر ۴۰۱ ق کال پورې کافران معرفي کړیدی. چې په دغه لړ کې عتبي دوښته د کافرانو خطاب کړیدی.

۴ -بیهقي: «سلطان محمود په ۴۰۵ ق کال غور ته جوخت په بست او زمین داوربرید وکړ، چې هلته پلید کافران دېر ځواکمن ول.» په یوه بل ځای کې لیکی: «اسلام د سلطان محمود د واک تر مهال غور ته نه وو رسیدلی«...

۵ -ابن اثیر په دې اند دی: «غوریان په څرګنده توګه کافران او په فساد ککړ وو.» له دې سربیره نورو هم لکه طبقات ناصری، خواندمیر او نورو ورته څرګندوني کړیدي، چې تر دېره د سلطان محمود له ستاینو سره یې تړاو درلود.

ولې ګڼ شمېر څېړونکي په دې اند دي، چې «د دریم یزدګرد له مرګه وروسته (۳۱ ق) د اسلام دین غور ته رسیدلی دی.» همدغه ډله څېړونکي په دې ټینګار کوي، چې حضرت علي (رض) د خلافت په مهال د اسلام سپېڅلی دین غور ته رسیدلی وه.

ولې حقیقت دا دی، کله چې سلطان محمود په غور برید وکړ، د غور پاچا (د جوزجاني په قول) د غور امیر محمد بن سوری وو، چې پخپله د محمد نوم د اسلام څرګند ثبوت دی. نو دا چې پاچا بې مسلمان وو. خو هرومرو د غور اوسیدونکی هم تر دېره بریده مسلمانان ول.

په راوروسته پېرونو کې غوري واکمن دسني او شېعه عقیدوتراغیز لاندې راغلل د مثال په ډول علاوالدین حسین جهان سوز، د حمید الله مستوفي په اند «سني مذهبه وو» او یو شمېر نور بیا دا سمعیلي، شافعی، حنیفی او کرامیته عقایدو پیروان وو، چې مورِ سلطان غیاث الدین محمد او شهاب الدین محمد سام د بېلګې په توګه یادولی شو، چې غیاث الدین شافعی مذهب او شهاب الدین محمد سنی وه له یادو مذاهبو سربیره یهودي مذهبه وګړی هم په غور کې میشت او ودان وو.

نه یوازې په غور کې ډول ډول مذهبي او کلتوري ارزښتونو شتون درلود بلکې دارنګه د بیلابیلو ټولنیزو مناسباتو او د بیلابیلو قومونو شتون هم د پام وړ ګڼلی شو او په ځانګړي ډول د سلطان شهاب الدین محمد په پوځ کې د افغانانو، ترکانو، خلجیانو، غزانو، تاجیکانو او د نورو قومونو د جنګیالیو شتون د یادولو وړ ګڼلی شو.

د دغو قومونو په ترڅ کې مورِ د خلجیانو یادونه وکړه او تر دېره بریده په ځنو متونو کې خلجیان د غلجیانو مترادف او کله هم یو د بل مخالف اومقابل په ګوته شویدی، غوره به وي، چې د دغو قومونو (خلجی که غلجی) په اړه څرګندونی ولرو.

هندو شاه لومړی ټوک ۷۶ مخ (چاپ ۱۳۰۱ ق)

همدغه اثر ۵۷ مخ، جوزجاني لومړی ټوک ۳۴۶ مخ او فضل الله همداني ۳۳۷ مخ (

(فخر مدبر ۲۷۳-۲۷۲ مخونه (چاپ ۱۳۴۶ ق (

(جوزجاني لومړی ټوک ۳۴۶ مخ (۱۳۶۳ ق (

همدغه اثر ۳۲۵-۳۲۴ مخونه (

(اصطخري ۲۲۰ مخ (۱۳۶۸ ق کال (

حدود العالم ۱۰۳-۱۰۱ مخونه (

(بیهقي ۱۱۴ مخ (۱۳۷۰ ق کال (

(ابن حوقل (۱۷۸-۱۵۵ مخونه (

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(ابن اثیر ۹ توک ۲۲۱ مخ (۱۳۶۸ ق کال (

فدایی اصفهاني، ترکتازان هند ۷۳ مخ (چاپ ۱۳۴۱ ق کال) جوزجاني لومړی توک ۳۹۰ مخ (۱۳۶۳ کال) او (میرخواند ۴ توک ۶۴۴ مخ (۱۳۳۹ کال چاپ

) ابن اثیر ۱۲ توک ۲۳۴ مخ (۱۳۸۶ ق)، جوزجاني لومړی توک، ۴۰۹ مخ (۱۳۶۳ ق).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ